**د افغانستان د 2010 کال د پارلماني ټاکنو د ځنډیدو د پریکړې په اړه د کاناډا د سفیرڅرګندونې**

د جنورۍ 24 مه، 2010

په افغانستان کې د کاناډا سفیر ویلیم کروزبی نن دغه بیانیه د د 2010 کال د سپتمبر ترمیاشتې پورې د افغانستان د پارلماني ټاکنو د ځنډیدو په اړه دټاکنو د خپلواک کمیسیون د پریکړې په اړه صادره کړه.

" د پارلماني ټاکنو د وخت ټاکل هغه پریکړه ده، چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د څیړنو وروسته شوې ده. کاناډا له دغه پریکړې څخه ملاتړ کوي او په دې برخه کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون واک تاییدوي."

" په داسې حال کې چې د 2009 کال د ولسمشرۍ ټاکنې د ډیموکراتیک بهیر د پراختیا لپاره یو مهم ګام دی، خو د لویو ستونزو سره مل وې. دا مهمه ده چې دغه ستونزې د پارلماني ټاکنو د ترسره کیدو مخکې هوارې شي. موږ هیله لرو چې د افغانستان حکومت  له دغه اضافي وخت څخه ګټه واخلي او مثبت ټاکنیز بدلونونه پلي کړي. "

"موږ د افغانستان له حکومت او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون څخه غواړو، چې د پارلماني ټاکنو لپاره اړین شرایط برابر کړي، ترڅو معتبرې، خوندي او پراخې ټاکنې ترسره شي."